BBC MEDIA ACTION
TRANSFORMING LIVES THROUGH MEDIA AROUND THE WORLD
World Health Organization
Global Affairs Canada

# کرونا وېروس او د خلکو غږ

## میاشتنی څېړنیزه پاڼه، سپتمبر ۲۰۲۰

**ددې میاشتي مهم ټکي**

*په ښارونو او کلیوالي سیمو کې خلک د کوېډ-۱۹ په اړه پوهیږي او د یوې ناروغۍ په توګه یې مني او د یوې دسیسې په سترګه ورته نه ګوري. که څه هم، یوازې یو څو ښځو او کم شمېر سړیو د کرونا وېروس د خپرېدو د مخنیوي په موخه د روغتیایي لارښوونو (د ببلګې په ډول، په بیا بیا ځلې د لاسونو مېنځلو) په پام کې نیولو یادونه کړې ده، هغه هم یوازې په ښاري سیمو کې. سربېره پر دې، په ځانګړي ډول هغوی چې په کلیوالي سیمو کې ژوند کوی د کوېډ-۱۹ په تړاو بې باوره دي او لیدونه یې تر ډېره ګنګوسو اغېزمن کړي دي. د کوېډ-۱۹ په تړاو د معلوماتو په برخه کې رسنۍ ترټولو اصلي او باوري سرچینه ګڼل کیږي، په کلیوالي سیمو کې دیني علماء او د ټولنې مشران هم په دې برخه کې خلکو ته مالومات وړاندې کوي. ټلویزیون د هغو خلکو ترمنځ چې لاسرسی ورته لري تر ټولو باوري سرچینه بلل کیږي. اوسمهال ډیری خلک غواړي پوه شي چې کله، چېرته او څنګه کولای شي د کوېډ-۱۹ واکسین ترلاسه کړي.*

## مهمې موندنې

***ښځې او هغه خلک چې په ښاري سیمو کې ژوند کوي لا هم د کوېډ-۱۹ ناروغۍ په اړه اندېښمن دي. سربېره تر ډېره بریده د بیکارۍ او بې وزلۍ په اړه اندیښنه لري.***

ښځینه ځواب ویوونکو تر ډېره په عمومي ډول د کرونا وېروس په اړه اندېښنه څرګنده کړې. ددوی اندېښنه له دې کبله وه چې په کور کې د ماشومانو او د کورنۍ د نورو غړو د سالم ساتلو مسولیت احساسوي.
دوی همدارنګه د خپلو اولادونو پر زده کړو د اغېز په اړه هم اندېښمنې وې. د بېلګې په توګه، د هغې مودې په اړه اندېښمنې وې چې کوچنیان یې له ښونځي بهر دي (د مارچ میاشتې راهیسې) او په پایله کې یې اولادونه ممکن د اورپکو د ګومارنې نښه وګرځي.

*"له خپلو ګاونډیانو مې واورېدل چې اورپکي کوښښ کوي ترڅو هغه تنکي هلکان وګوماري چې د کوېډ-۱۹ له امله یې ښوونځي تړلي دي. زه د خپلو اولادنو په اړه ډېره اندېښمنه یم."*

- له فاریابه د پنځو اولادنو مور

خو سړیو او په ځانګړې توګه د کلیوالي سیمو اوسېدونکو بیا د کویډ-۱۹ ناروغۍ په اړه ورته اندېښنې نه دي یادې کړې.
نارینه ځواب ویونکو احساس کاوه چې د ټولنې د خلکو اندېښنې د بېکارۍ او بې وزلۍ په اړه دي چې ددې وبا په موده کې بندیزونو لا دغه اندېښنه ډېره کړې ده.

د دوی ډیری برخه، په ځانګړي ډول بې وزلو او د ورځنۍ مزد عاید لرونکو یې خپلو کورنیو ته د خوړو پیدا کولو په برخه کې له ستونزو سره لاس او ګرایوان ول. په پایله کې اړ شول ترڅو خپل کار ته وګرځي او دا ونه مني چې کوېډ-۱۹ لا اوس هم شته.

***کوېډ-۱۹ ناروغۍ او له امله یې بندیزونو ښځې او نجونې د کورنۍ د نورو غړو په پرتله ډېرې اغېزمنې کړې دي***

له هغو کسانو سره چې موږ خبرې وکړې، ښځو د نارینه و په پرتله د کوېډ-۱۹ له امله پر ځان د زیاتو ننګونو او سمدستي اغېزو یادونه وکړه؛ د دې وبا په موده کې په ښځو فزیکي او رواني فشارونه ډېر شوي، په ځانګړې توګه د زیات مالي فشار او د بندیزونو پرمهال په کور کې د کورنۍ د نارینه غړو او کوچنیانو د شتون له امله.

ډیری مېرمنو خپلې وړې سوداګرۍ له لاسه ورکړې لکه ځایي بازارونو ته د لاسي صنایعو او ځینې نورو محصولاتو جوړول. په دې موده کې د اکمالاتو دې لړۍ سقوط وکړ چې ددوی کاروبار یې د پام وړ اغېزمن کړه. دواړو نارینه او ښځینه ګډونوالو وویل ډیرو هغو مېرمنو چې په خصوصي سکټور کې کار کاوه خپلې دندې له لاسه ورکړي دي.

کرونا د ښځو پر محدود ټولنیز ژوند منفي اغېزه درلوده ځکه د بندیزونو پرمهال ځینې محفلونه لکه ودونه، جنازې او داسې نور مراسم منع شوي وو. ددې چارې اغیزه د

نارینوو په پرتله پر ښځو زیاته وه ځکه نارینه د نورو چارو لپاره له کوره بهر وځي، دوی یوازې د کار په موخه له کوره بهر ځي او له همدې امله دا ورته د ټولینزو اړیکو یواځینی لار پاتې ده.

*"زه په یوه خصوصي ښونځي کې ښونکې یم. له اتو میاشتو راهیسې هیڅ ډول عاید نه لرم ځکه ښونځي تړلي دي."*
- په کندز کې د راډیو یوه تنه اورېدونکې

په دې موده کې نجوني ښونځیو ته نه دي تللي او ډیری کورنی د هغې نا امنی له امله چې د کوېډ-۱۹ ناروغی له امله رامنځته شوې بېرته ښونځي ته د هغوی په لیږلو کې ډاډمنې نه دي. دا به په هېواد کې د نجونو زده کړې اغېزمنې کړي ځکه کورنی د نجونو د زده کړو په برخه کې زړه نازړه دي او ممکن دا د یوې پلمې په توګه وکاروي.

*"د کرونا وېروس د هغو خلکو لپاره چې له کوره بهر د ښځو له کار کولو سره مخالف دي یوه ښه پلمه ده. زه په خپل ګاونډ کې د ځینو داسې خلکو نومونه درته اخېستلای شم چې اوس هم نجونو ته له کوره بهر د کار کولو اجازه نه ورکوي او حتی ښونځي ته یې له تګه راګرځوي."*
- په مزار شریف کې د راډیو یو تن نارینه اورېدونکی

***مېرمنې [د کوېډ-۱۹] له دویمې څپې په اندېښنه کې دي او لومړنیو روغتیایي خدمتونو ترلاسه کولو په برخه کې وېره لري ځکه د روغتیا نیمګړي سیستم د کوېډ-۱۹ او نورو ناروغانو ته د لومړنی درملنې په برخه کې خپله کمزورتیا وار دمخه ثابته کړې. په روغتیایي خدمتونو کې د ښځینه کارکونکو کمښت ښځو او نجونو ته د لا زیات رنځ سبب شوي دی.***

ښځې په ټولو ولایتونو کې اندېښنه لري چې د کوېډ-۱۹ ناروغی دویمه څپه به راشي. په کلیوالو سیمو کې ښځې لومړنیو روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې اندېښمنې دي. په ځینو ولایتونو او حتی په ځینو ښارونو او همدارنګه د کوېډ-۱۹ ناروغی په ځانګړو مرکزونو کې د ښځینه روغتیایي کارکونکو کمښت هم د نارینه و او مېرمنو دواړو لپاره یوه لویه اندېښنه ده. په بلخ، دایکندي او فاریاب ولایتونو کې د ښځینه راډیوګانو د ځینو اورېدونکو او د ټولینزو پرمختیایي شوراګانو د ځینو غړو په وینا، د امنیتي ګواښونو له امله د روغتیایي خدمتونو کارکونکي لېرو پرتو سیمو ته محدود لاسرسي لري. هغو خبریالانو چې د کوېډ-۱۹ ناروغی اړوند خبري کېسو ته پوښښ ورکاوه ددې شاهدان وو چې د ښځینه روغتیایې کارکونکو کمښت څنګه د ښځینه ناروغانو د رنځېدو سبب کیږي.

*"ما ولیدل چې یوه ښځه بې هوښه شوه او د روغتون په پوړ را پرېوته کله چې له دې خبره شوه چې د کوېډ-۱۹ ټست پایله یې مثبته ده. هغلته کومه ښځینه روغتیایي کارکونکې نه وه چې نوموړې ښځه د روغتون کوټې ته د ننه کړې وای. له څه وخت تېرېدو وروسته یو نارینه کارکونکی راغی او نوموړي ښځه یې د درملنې په موخه داخل ته دننه کړه. که دا پېښه په یوه حساس ولایت کې رامنځته شوې واي، موږ ممکن هغه له لاسه ورکړې وای ځکه هیڅ سړي به نه شوای کولای هغې ته لاس وروړي او درملنه یې وکړي."*
- په د ایکندي کې یو تن نارینه ژورنالست

***د کوېډ-۱۹ په تړاو باورونه لا هم د ګنګوسو تر اغیز لاندې دي. که څه هم ددې څېړنې ډیری برخه وال دا مني چې کوېډ-۱۹ یوه ناروغي ده او د یوې دسیسې په سترګه ورته نه ګوري ، د کلیوالي سیمو خلک فکر کوي چې کوېډ-۱۹ ناروغي په افغانستان کې له منځه تللې ده.***

د هغو ځواب ویونکو سره چې موږ خبرې وکړې ځینې عمومي **ګنګوسې** یې په لاندې ډول بیان کړې:

- د کلیوالي سیمو نارینه فکر کوي چې **حکومت د نړیوالو مرستو راټولولو په موخه ددغه وېروس په ښودلو کې مبالغه کړې.** دې بې باوری وروسته له هغې زور واخېست چې د افغان حکومت په کوربتوب د سولې مشورتي لویې جرګې لپاره نږدې ۴۰۰۰ کسانو بې له دې چې ټولنیز واټن یې په پام کې ونیسي تر یوې خېمې لاندې راټول شوي وو.
- هغه نارینه چې د زده کړو کچه یې ټیټه ده او هغه خلک چې د هلمند، ننګرهار او بلخ ولایتونو په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي په دې باور دي **هغه کسانو چې روغتیایي لارښووني په پام کې نیولې او د کوېډ-۱۹ ناروغۍ په وړاندې ډیر حساس بیا هم په دغه ناروغی اخته شول ، په داسې حال کې چې هغو خلکو چې لږ پام کاوه روغ پاتې شول.**
- همدارنګه ددې څېړنې ډیری ګډونوال فکر کوي **که یو څوک یو ځلې پر [کوېډ-۱۹] اخته شو، نو تر راتلونکو شپږو میاشتو به خوندي وي. نو له همدې امله دوی اړتیا نه لري چې د کوېډ-۱۹ ناروغی لپاره روغتیایي لارښووني په پام کې ونیسي.**
- **که څوک د درملنې په موخه د کوېډ-۱۹ ناروغی د کنټرول مرکز څخه لیدنه کوي، ډاکټران به یې په قصدي ډول د یوې ستنې په مرسته ووژني ترڅو په دې توګه ددې وېروس د نور خپرېدو مخه ونیسي.**

*"زما په سیمه کې خلک وايي چې د کرونا ویروس نور نه شته، که وي هم، دومره جدي نه دي لکه څومره یې چې په اړه د حکومت لخوا مبالغه کیږي."*
- په هلمند کې د ټولنیزي پرمختیایي شورا یو تن نارینه غړی

***خلکو د روغتیايي پاملرنو د لارښونو په اړه پوهه درلوده خو په هر ځای کې دا لارښوونې په پام کې نه نیول کېدې. سړي او ښځې دواړه په ښاري سیمو کې په بیا بیا ځلې د لاسونو مینځلو [سپارښتنه] په پام کې نیسي. د لاسونو مینځلو سره ځان عادتول تر ټولو اسانه چاره وه ځکه ددې ځېړنې ټول ګډونوال پرې توافق لري. د مخ پوښل لکه ماسک اغوستل، فزیکي لرې والی او د نښو نښانو درلودلو په صورت کې له نورو څخه د ځان جلا والی هغه څه وو چې ځان عادتول ورسره ستونزمن و.***

ددې څېړنې نارینه او ښځینه ځواب ویونکو د احتیاطي کړنو لکه د لاس مینځلو، فزیکي لرې والي، مخ پوښلو، سطحو پاکولو او په لویو غونډو کې د راټولېدلو څخه ډډې کولو په اړه پوهه درلوده. په ښاري سیمو کې ښځو او سړیو د لاسونو بیا بیا ځلې مینځلو په اړه یادونه وکړه ځکه دوی داسې احساس کاوه چې دا چاره هغه څه وو چې دوی ورسره په اسانه ځان عادت کړ. که څه هم، د بې وزلو او کوچیانو لپاره صابون او پاکو اوبو ته لړ لاسرسی د یوه خنډ په توګه یاد شوي دي.
ځینې ځانګړې ډلې د مهمو چلندونو په تړاو د نشتوالي یادونه کوي. د ښاري سیمو بې وزلي خلک د یوه یا دوه متره فزیکي واټن په پام کې نیولو په اړه نه پوهیږي. دوی فکر کاوه چې فزیکي لرې والی په غېږ کې د نه نیولو او لاس نه ورکولو په مانا دی، کوم چې دوی د بندیزونو په لومړیو ورځو کې په پام کې نیولی و خو په دې ورستیو کې بېرته عادي حالت ته ګرځیدلي دي.

کوچیان یوازې تبه او ټوخی د کوېډ-۱۹ ناروغی د نښو نښانو په توګه پېژني. دوی د نورو نښو نښانو لکه د خوند او بوې د لاسه ورکولو په اړه نه پوهیږي.

*"د عامه پوهاوي کمپاین په لاره اچول اسان دي، خو پلي کول یې ګران دي. د یوې بېلګې په توګه، د شلو ثانیو لپاره په صابون او اوبو سره لاس مینځل تر ټولو اسانه لاره او د مخنیوي تر ټولو مهمه چاره بلل کیږي. خو ډیری خلک چې کله له کوره بهر وي صابون ته لاسرسی نه لري."*
- په هلمند کې د راډیو یو تن اورېدونکی

***رسنۍ د خلکو لپاره د کوېډ-۱۹ په اړه د معالوماتو اصلي سرچینه ده.***

په هغو سیمو کې چې خلک ور ته لاسرسی لري، نارینه او ښځینه ځواب ویونکو پر ټلویزیون د کوېډ-۱۹ اړوند معالوماتو لپاره د یوې مهمې سرچینې په توګه باور کړی. په هر صورت، په کلیوالو سیمو کې خلکو تر ډیره راډیو کاروله او همدارنګه ملایان د جوماتونو له لارې مالومات ورکوي او د ټولنې د مشرانو په مشرۍ کور په کور مالومات ورکول کېدل. هغه ګنګوسې چې دوی اورېدلې وې د ټولنیزو رسنیو او د ملګرو او کورنیو لخوا خپرې شوې وې.

*"موږ د کرونا ویروس اړوند مالومات تر ډیره له ټلویزیون، راډیو او ملایانو څخه تر لاسه کوو چې کله ناکله د جومات د لوډسپیکر له لارې د احتیاطي تدابیرو په اړه خبرې کوي. یو ځلې د سیمې خلکو هم ځینې مالوماتي پاڼې کور په کور وویشلې."*
- په فاریاب کې د ټولنیزې شورا یو تن نارینه غړی

***ښځې او سړي دواړه غواړي پوه شي چې کله، چېرې او څنګه به د کوېډ-۱۹ لپاره واکسین موجود وي.***

دوی همدارنګه د باوري سرچینو لکه ټلویزیون، راډیو یا ملایانو او ډاکټرانو څخه نور مالومات غواړي ترڅو په دې توګه هغه مالومات چې له ټولنیزو رسنیو او له خپلو ملګرو څخه تر لاسه کوي تصدیق کړي.

## ددې څېړنې مېتود

موږ د سپتمبر میاشتې په لومړۍ اونۍ کې د افغانستان په شپږو ولایتونو کې د ټیلیفون له لارې ۲۴ ژورې مرکې ترسره کړې: فاریاب، بلخ، کندز، دایکندي، ننګرهار او هلمند هغه ولایتونه دي چې دا مرکې په کې له لاندې خلکو سره ترسره شوي دي:

- د ځایي راډیو سټېشنونو شپږ تنه ښځینه او پنځه تنه نارینه اورېدونکي
- د ټولنیزو شوراګانو پنځه تنه ښځینه او دوه تنه نارینه غړي
- شپږ تنه فعال ژورنالستان

ددې لپاره چې د کوېډ-۱۹ په اړه د ټولنو له تجربو ښه خبر شو، له خلکو مو وپوښتل چې اوسمهال یې په دې هکله اصلي اندېښنې کومې دي، د کوېډ-۱۹ په تړاو یې پوهه څه ده، اوسمهال کوم مالومات لري، کومو مالوماتو ته اړتیا لري، او له کومو سرچینو مالومات اخلي.

د راډیو له اوریدونکو ویوښتل شول ترڅو په دې اړه خپلې تجربې او کړنې له موږ سره شریکې کړي په داسې حال کې چې د ټولنیزو شوراګانو له غړو او ژورنالستانو څخه وغوښتل شول ترڅو خپلې تجربې شریکې – او همدارنګه د خپلو ټولنو تجربو ته انعکاس ورکړي. ددې مرکو سربېره، دغه مالومات په افغانستان کې د بي بي سي مېډیا اکشن د نورو روانو پروژو سره چې د کوېډ-۱۹ ناروغۍ په تړاو دي، د کیفیت په موخه وارزول شول.

ددې خبرتي له ترسره کولو وړاندې مو د کرونا وېروس په وړاندې د مبارزې د کارې ډلې یا RCCE سره خبرې وکړې ترڅو په خپله خبرنه کې د دوی د مالوماتو اړتیاوې په پام کې ونیسو.

## د خلکو د غږ په اړه

دا میاشتنۍ خبرنیز ژورنال د هغو نظرونو پر بنسټ چمتو کېږي چې د افغانستان له بېلا بېلو سیمو چې د کوېډ-۱۹ وبا له امله زیانمنې شوې دي راغونډېږي. ددې چارې موخه د ټولنې د درک، اندېښنو او وېرو په اړه د یوه لنډیز چمتو کول دي چې له روغتیایي او بشردوستانه ادارو سره به مرسته وکړي ترڅو خپل فعالیتونه د ټولنې د اړتیا پر بنسټ او لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره په غوره شکل تنظیم او عملي کړي. بي بي سي مېډیا اکشن ددې خبرپاڼې اډ ګنه د کاناډا د نړیوالو چارو اداري په مالي مرسته چمتو کړې. بي بي سي مېډیا اکشن ددې خبرپاڼې د محتویاتو مسولیت پر غاړه لري، او هر هغه نظرونه چې دلته څرګند شوي دي په بي بي سي او نورو ملاتړ کوونکو پورې چې ددې خیریه اداري له کاره ملاتړ کوي، تړاو نه لري.

موږ د نورو سازمانونو د همکاریو هرکلی کوو چې غواړي په هغو برخو کې چې دوی کار کوي خپل نظرونه زموږ سره شریک کړي، یا غواړي ددې خبرپاڼې په شننه او تولید کې برخه واخلي. که غواړئ برخه واخلئ، په مهربانۍ سره په لاندې برېښنالیک پته سره په اړیکه کې شئ

rashed.hayati@af.bbcmediaaction.org